# افغانستان د پاکستان له اقتصادي دهلیزه په وتو دی

**لیکنه : عبدالمالک «عاصم»**

په پاکستان کې د افغانستان په اړه دا تصور یقیني شوی چې کابل اوس په اقتصادي او تجارتي ډګر کې په بشپړ ډول د پاکستان له اغیز او دهلیزه بهر شوی او افغان ولسمشر وکولی شو، چې د پاکستان له جیوااقتصادي او سوداګریزې کلابندۍ خپل هیواد خلاص کړي. دا په وروستیو څو کلونو کې د افغانستان کامیاب مزل بلل کیږي، چې په بازارونو کې یې د پاکستاني توکو ځیرې نور د خلکو له ذهنونو په وتو دي. پر دیورنډ پراته د ختیځ تورخم او سویل سپین بولدک پرتله اوس د نیمروز، شیرخان بندر، حیرتانو، تورغونډۍ، آقینې او اسلام کلا بندرونه ډیر بوخت دي.

په وچه کې د راګیر افغانستان په اړه اوس د اسلام آباد ورځنۍ تصور د هغوی له رسنیو له ورایه په ډاګه کیږي. په پنجاب کې د سیاستوالو دویمه درجه ورځنۍ د بحث وړ توده موضوع د افغانستان د بهرنۍ اقتصادي تګلارې بری دی چې د پاکستان شنونکو په باوروېې کولی شوای له پاکستان پرته نړۍ سره پخه او ډاډمنه راشه درشه پراخه کړي. کابل ته اوس له آسیا، اروپا، منځني ختیځ، ختیځې آسیا او آن امریکا څخه سوداګریزو توکو نوې لارې موندلې او افغان بازارونو په رنګارنګ نړیوالو معیاري مصرفي توکو بیله ښکلا خپله کړې. اوس د افغانستان په سترو ښارونو کې د منځنۍ پوړ مصرفوونکي افغان وګړي د خپلې ورځنۍ اړتیا لپاره دداسې هیوادونو د اجناسو غوښتنه کوي، چې تر ۵ کاله دمخه یې ډیرو هېوالو ته یادول خوب بریښیده. سږکال هندي ځپلیو د افغانستان بازارونه په بشپړ ډول لاندې کړي، چې د بیې له اړخه د ۸۰ په سلو کې افغانانو له ژوند او ښکلا سره برابر وو. پرلباس سربیره درمل د افغانستان داړتیا وړ مصرف هغه بل مهم توکی دی چې د افغانستان د طبي سوداګرو د ټولنې په وینا تر۲۰۰ میلیون ډالرو پورې هندي کمپنیو سره معاملې کړیدي او په دې توګه یې د پاکستان د کراچۍ د درملو کمپنیو ته زیان اړولی.

د وارداتو په خواکې د افغانستان صادراتو ته هم پراخ نړیوال مارکیټونه په لاس ورغلي چې د منځنۍ آسیا پر بازارونو سربیره، ترمسکو او اروپایي مارکیټونو، د منځني ختیځ د شمتنو شیخانو تر دسترخوانونو او د هندوستان د بې وزلو انسانانو ترکورونو د افغانستان تازه او وچې میوې ورسیدې. په تیرو ۴۰ کلونو کې د افغانستان د تازه میوو او ترکاریو لپاره ۲۰۱۷ کال بیساری وو. سږکال په باثباته ډول د افغان بزګرانو د حاصلاتو او کورنیو او نړیوالو بازارونو ترمنځ منظمه اړیکه رامنځ ته شوې وه او په تیرو ۲ میاشتو کې د افغانستان د تازه میوو بازار ګرم دی او افغان بزګرانو سږکال د خپلو تویې کړو خولو ثمره وځکله. له څلورو لسیزو وروسته په جګړه کې د ښکیل افغانستان ټولې لویې لارې د پخوا خلاف تقریبا په مساوي ډول په سوداګریزو توکو بار لویولاریو د تګ راتګ شاهدې دي، چې ددې هیواد د هرکونج د اقتصادي خوځښت زیری ورکوي. تر دې ۲۰۱۲ کال وړاندې د تورخم او سپین بودلک سرکونه د افغانستان د اقتصادي جریان اصلي کرښې وې، چې تر ډیره به د پاکستان له اړخه لارۍ ډکې او د افغانستان لخوا به خالي روانې وې. خو اوس د صادراتو او وارداتو انډول ته پام سره دا لویې لارۍ دوه اړخیز بارونه له شماله تر ختیځه او له لویدیځه ترمرکز او سویله کښته پورته کوي.



سره له دې چې پاکستان وکولی شو په تیرو ۴ لسیزو کې د افغان سپین ږیرو او ځوانانو وینو او مغزو ته خپل اغیزوړپیچکاري کړي، خو د وروستۍ یوې نیمې لسیزې د سیاست له برکته یې د پاکستان نوم او څیره دافغانانو د زړه د کړکې کندې ته ورټېل وهل شوی او ټولې خوارۍ یې د پاکستان مرده باد له شعار سره وتړل شوې. اوس ډیرو افغانان پاکستان ته په خپل کړې هجرت پښېمانه بریښې او له پاکستاني اکاډمیکو بنسټونو ترلاسه کړو اسنادو باندې د یو ډول نا هیلۍ احساس کوي. دافغانستان او سیمې په اړه د پاکستان د ستراتیژیک ژوروالي سیاست اوس په خپله دوی له هره اړخه ناکام ګڼې او له اسلام اباد څخه د افغان بچې انځور د وژونکي تل پاتې ګاونډي دښمن دی، چې که یې لاس پرې برشود لوی افغانستان جنډه به په اټک کې ودروي. د اسلام آباد د سیاست د الف او با لیکونکي فکر کوي، چې په سیاسي ډګر کې هم دوی خپله لوبه هندوستان ته بایلودې او له خپله لاس جوړو دښمنو ګاونډیانو په منځ کې راچارپیردی. پاکستان کې د استخباراتو او پوځي ډګرپخواني لوبغاړي چې اوس د رسنیو د بحثونو په مټ پوځي سیاست ته نظرونه تیاروي داسې انګیري، چې ددوی د ګوارد بندر په څه باندې ۲۰۰ کیلومترۍ کې د چابهار بندر ته د هند د جاسوسۍ اداري کارکونکي د بندري کارګرو او انجینرانو په نومونو را دروملي، چې ددوی په فکر تر کراچۍ وروسته ددوی دغه نوی خوندي بندر به هم دهندیانو تردوربینونو لاندې وي. پرډیورنډ د پاکستانۍ اداري لخوا د ازغن تار غزولو ته په افغانستان کې د ډیورنډ د رسمي کولو د پلان په سترګه کتل کیږي، خو د پنجاب واکمن یې پر افغان خاوره ددوی په اند د هند د بالقوه اغیز د ورزیاتیدو او په پاکستانۍ خاوره د ممکنه لاس وهنې او هلته ددوی په اند له یو شمیرډلو سره د لاس ورلو د مخنیوي په موخه عملي کوي. په بلوچستان کې د یوه هندي وګړي کلبوشن او بیا د هند د جاسوسۍ له اداري سره د هغه د تړل کیدو مسله هم له دغه ډول اندیښنې سره تړلې چې په کابل کې ورته رسنیو ډیر پام ونکړ.

کابل او نوي ډیلي څه باندې یوه لسیزه د واګې بندر ته اړولي وو، چې ددوی د موټرونو پرمخ یې خوله خلاصه نشوه او بلاخره هندوستان د چابهار له لارې تر کابل او منځنۍ آسیا د تګ راتګ موزې په پښو او پر افغان خاورې یې د ځمکې له لارې هندي غنم شیندل شوني کړل. نیمروز دامهال د افغانستان د ګوټ ګوټ لاریو دورتګ کوربه دی، چې په کور دننه د لویو ګاډو د تګ راتګ بازارته یې نوی لوری ورکړی. سیمه د بدلون په درشل کې ښکاري، او د افغانستان یو وروسته پاتې او له نظره لیرې پروت ولایت نیمروز په یوه سوداګریزه بندري سیمه بدلیدونکی دی، چې ژر به دعوایدو او کاروبار له اړخه د کندهار، هرات، ننګرهار او بلخ په څیر نوم او نښان تر لاسه کړي. هند وایي د چابهار بندر له لارې به د کابل اوډیلي راکړه ورکړه ژر میلیاردونو ډالرو ته ورسیږي او هندیان غواړي له زرنج څخه د افغانستان ترمرکزي سیمو او آن شماله د اورګاډي داسې پټلۍ او کرښه جوړه کړي، چې پر کابل او مزار سربیره یې مالونه منځنۍ آسیا ته ورسیږي. دا په سیمه کې د څو هیوادونو د راکړې ورکړې د نوي موسم پیل دی، چې ویل کیږي د دغه نوي ځینو ته زړه خوړونکي طوفان په مخالف لوري حرکت کونکي به بې هدفه ستړي وي. د پاکستان پر ARY تلویزیون یوه بیګاني بحث دا خبره کوله، چې له اسلام آباد څخه د کابل د سولې د مرستې هیله به هم یوه ورځ د چا بهار په څیر له پاکستان پرته ترسره او افغانستان به د پاکستان له دې اغیزه هم خلاص شي. د همداسې ورځې په هیله د پرمختللي افغانستان منډې دې ګړندۍ وي. د پاکستان نوم وتې تلویزیوني سیاستوالو دا زمزمه تیزه کړې چې اوس وخت، بخت او تخت له کابل سره دی او د بیجینګ په متو کې شته زور ددوی درد او مړژواندې ناروغي نشي رغولی.

د همدغو پاکستاني تحلیل کوونکو چیغه داده، چې کابل له سرې کرښې خپل سرخوندي کړی او د خپلې تنې د خوندي کولو هڅې یې ګړندۍ کړې دي، خو اندیښنه یې داده، چې اسلام آباد پر داسې تیاره او بې اکسیجنه سوړه ننوتونکی دی، چې له کابل سره د راشه درشه او لیدو کتو چانس پکې د لاسه ورکوي. سیاسي او نظامي مشران یې لاهم له افغانستان سره د نوې لوبې پیل ته زړه نازړه دي، چې د ترسره کیدو او نه ترسره کیدو په صورت کې یې د څلویښتو کلونو خوارې په سیند ورته لاهو کیدونکې بریښي.

## په کور دننه د روغتیایي ستونزو حل

د دې لپاره چې هیوادوال مو د وخت له ضایع، د پردو له احتیاج او زیات لګښت ځینې وژغورل شي، په کور دننه د روغتیایي ستونزو د حل لپاره لاندې دوه حل لارې غوره ګڼم. خدای تعالی دې وکړي د مسؤلینو د پام وړ وګرځي.

**لمړی :**

د نړیوالو مرستندیو هیوادونو او روغتیایي بنسټونو په مرسته او د حکومتي امکاناتو پر مټ د هیواد په مرکز کابل او څلورو زونونو کې د پنځو داسې معیاري روغتونونو جوړول چې؛ د وخت په ټکنالوجۍ او اړتیاوو سره سمبال او برابر وي.

**دویم :**

له دوه یا دریو، د درمل جوړولو مخکښو نړیوالو، کمپنیو سره قرارداد کول چې؛ په ګران هیواد کې د اړتیا وړ معیاري دوا تولید کړي.

- د هردرمل په پوښ پلور بیه په افغانیو لیکل.
- درمل پلورنکو ته دې، د دوی د موقیعت او فاصلې په نظر کې نیولو سره، د کمپنۍ لخوا د ځانګړې پالسۍ پر بنسټ تخفیف ورکړل شي.
- هیواد ته له بهر نه د هر ډول درملو راوړل دې د حکومت لخوا د مخدره توکو د قاچاق معادل جرم وګڼل شي.

**سعدالله «ستانکزی»**

## پادشاه خان و محمد شاه خان سرخابی لوگری مبارزان گمنام راه آزادی

**نویسنده : استاد شاه محمود محمود**

مردم سرخاب را اکثراً احمدزایی های غلزایی تشکیل میدهد. یکی ازسران مبارزان راه ازادی علیه تجاوز دوم انگلیس بالای افغانستان شخصیت شناخته شده سرخاو بنام پادشاه خان بود که با افراد خود برضد انگلیس مقاومت نمود. (۱۸۸۰ - ۱۸۷۹ م ) . قومندان انگلیس سرفردریک رابرتس که به رابرت کل در کشور ما یاد میگردید برای انتقام شکست خویش قلعه و برج پادشاه خان را با خاک یکسان نمود.

همچنان پسر پادشاه خان که یگانه راه استراتیژیکی شترگردن را در اختیار داشت انگلیس ها با او رابطه قایم نمودند. چون انگلیس ها میدانست نزدیکترین راه رسیدن به کابل ؛ بدست آوردن این کوتل است. اما مقاومت پادشاه خان سبب شد تا انگلیس ها بعد از رسیدن به خوشی علیه پادشاه خان نیرو بفرستند و برج های قلعه او را انفجار داده و سرنگون نمایند.

بنابرآن پادشاه خان در نبرد های مقاومت علیه انگلیس ها به خصوص جنگ چهاردهی کابل با افراد قریه و قبیله خویش در پهلوی محمد جان خان وردک ، سردار محمد حسن خان والی سابقه جلال اباد ، جنرال محمد کریم خان ،محمد شاه خان از کلنگار(سرخابی ) و عده کثیری لوگری ها به رهبری ملک های برکی برک و برکی راجان و چرخ ، مردم چهاردهی ، مردم صافی از تگاو و کوهستان و غلزایی می جنگید به زعم انگلیس دراین نبرد در حدود ۴۰۰ یا ۵۰۰ نفرزخمی و کشته شدند تنها از مردم چهاردهی به تعداد ۲۰۰ نفر در جمله کشته شده گان بوده است.

اما انگلیس ها از این بن بست به حیله و نیرنگ دست زده میان افغانها نفاق را گسترده و اتهامات علیه یکی یا دو نفر زده شد که در نبرد داخل شهر نزدیک شیرپور که افغانها شکست خوردند ؛ احتمالا "افرادِ پول و رشوه گرفتند. و عمدا "دست به شکست زدند. فیض محمد کاتب در سراج التواریخ شخص محمد جان خان وردک را متهم مینماید که شب نهم محرم سال ۱۲۹۷ هـ ق انگلیس ها ۲۰ هزار کلدار به او داده تا غازیان را از کابل پراکنده کند بنا "با این نیرنگ انگلیس ها توانستند شکست را در بین غازیان به وجود آورند.

در حالیکه سید قاسم رشتیا در کتاب خود «افغانستان در قرن نزده» پادشاه خان و محمد شاه خان سرخابی را متهم به گرفتن رشوه و فرار غازیان نموده است. او می نویسد از اول محرم تا نهم این ماه یعنی ۱۴ تا ۲۳ دسمبر ۱۸۷۹ م صد ها نفر انگلیس کشته یا اسیر شده بودند مجاهدین قرار داده بودند که به تاریخ دهم محرم (۲۴ دسمبر ۱۸۷۹ م ) مانند واقعه سال ۱۲۵۸ هـ ق = ۱۸۴۱ م بر انگلیس ها هجوم برده و آنها را محو و نابود نمایند اما انگلیس از سیاست تفرقه اندازی استفاده برده بین سران ملی نفاق افگنده پاچا خان (پادشاه خان) را با محمد شاه خان سرخابی طرفدار خود ساختند و انها را فریب داده و شصت هزار کلدار به ایشان وعده کردند تاعمدا " شکست خورده و فرار نمایند.

غبار همچنان در کتاب خویش « افغانستان در مسیر تاریخ» می نگارد: فعالیت سیاسی و تخریبی انگلیس ها بر فعالیت های نظامی برتری داشت و نتایج عمده تری میداد چنانکه بعد از جنگ ۲۳ دسمبر یک پروپاگند خاینانه در تمام کابل و اطراف آن به سرعت برق منتشر گردید و آن اینکه جنرال محمد جان خان شکست ۲۳ دسمبر را عمدا "با گرفتن رشوه ؛ انجام داده است. اما بعد ها مردم فهمیدند که این اتهام غلط دشمن است و نفر که به شکست دست داشت پادشاه خان سرخابی بوده است. که دانسته و نادانسته عامل عقب نشینی سپاه ملی گردید.

انگلیس ها همچنان از روابط خود با پادشاه خان پرده برداشته می نویسد که: با تآسف که پادشاه خان با وجودیکه از طرف دولت ما معاف گردید و برایش اعانه و « سب سایدی» وعده شده بود با آنهم خلاف وعده ؛ علیه ما در جنگ قرار دارد. وعساکر ما را زیر آتش گرفته است ؛ قسمیکه اصلاً از ما چیزی دریافت نکرده باشد.

اگر دقت شود هر دو محمد جان خان وردک و پادشاه خان سرخابی ؛ تا اخرین روز علیه انگلیس ها در جنگ قرار داشتند و نبرد چهاردهی و کوه آسمایی و میدان شیرپور نشان میدهد. که این نیرو شکست ناپذیر بوده اما باید این شکست را جای دیگر جستجو کرد .

چنانچه در همین روز مجاهدین و مبارزان برای یافتن انگلیس ها به خانه ها و منازل سرداران و اعضای دولت و حتی درمنازل چنداول کابل یورش بردند که با تاسف دست به چور و چپاول برده و این مصروفیت ها ؛ نفس دوباره درکالبد شکست خورده انگلیس ها به جریان انداخته وتوانستند از این خالیگاه استفاده برده و زمینه را برای شکست افغانها میسر بسازند چنانچه با این نیرنگ که برای سران ملی پول و رشوه داده شده است تا از یک طرف مُهر خفت و بزدلی را به پیشانی سران ملی بزنند و از جانب دیگر به اسانی تا آینده ها ؛ اختلافات رامیان مردم گسترش دهند.

## حق دسترسی به اطلاعات

آزادی بیان و رسانه ها و حق دسترسی به اطلاعات در قانون اساسی افغانستان به رسمیت شناخته شده است، اما به دلیل نبود یک سازگار قانونی این حق از سوی ادارات دولتی و مؤسسات خصوصی نادیده گرفته شده است.



خبرنگاران نیز برای بازتاب خبرها و گزارش های مرتبط با مسایل داخلی، نیاز به اطلاعات مؤثق و دقیق دارند و این معلومات را باید مسؤلان دولتی در اختیار رسانه ها قرار دهند که متأسفانه تا کنون این فرهنگ نهادینه نه شده است.

در سال 1393 هـ ش و با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی طرح به مجلس فرستاده شد و مجلس نمایندگان در جلسه طرح قانون حق دسترسی به اطلاعات را با اکثریت آراء در شش فصل و سی و دو ماده به تصویب رساند و این قانون بعدا از سوی رییس جمهور فعلی توشیح شد.

تصویب و توشیح قانون حق دسترسی به اطلاعات هرچند مورد استقبال مردم و نهادهای مدافع حقوق خبرنگاران قرار گرفت اما این قانون در عمل نتوانست مشکلات رسانه ها و خبرنگاران را در زمینه دسترسی به اطلاعات تاحدی مرفوع سازد، راهکارهای عملی این قانون در ادارات تا هنوز در نظر گرفته نشده است و مسؤلان و کارمندان دولتی نمی دانند که کدام نوع اطلاعات را تحت کدام شرایط در اختیار چه کس و یا کسانی قرار دهند.

با آن که در سال 1395 هـ ش رییس جمهور غنی طی فرمان تقنینی به همه ادارات دولتی دستورداد تا تمام ماده های قانون حق دسترسی به اطلاعات را مراعات کرده و اطلاعات لازم را در اختیار رسانه ها قرار دهند اما بازهم این فرمان ها آن طوری که انتظار می رفت عملی نگردید.

در حال حاضر با وجودی که ما قانون حق دسترسی به اطلاعات و فرمان های تقنینی برای اجرای آن را داریم، ولی بازهم مردم و رسانه ها با همان مشکلات سابق روبرو بوده و از حق دسترسی به اطلاعات محروم می باشند. رسانه های نوشتاری، شنیداری و دیداری برای انتقال اطلاعات پلی ارتباطی میان دولت و مردم میباشد، این کارکرد رسانه ها در جوامع دموکراتیک برایشان حیثیت و قدرت زیادی بخشیده است، تا جایی که معمولاً رسانه ها به حیث قوه چهارم در پهلوی سه قوه اساسی دولت شمرده میشود.

امروز صد ها رادیو وده ها تلویزیون دولتی وغیردولتی در سراسر افغانستان موجود است که تقریباً همهٔ آنها جایگاه خاصی درمیان بعضی مخاطبین دارند.

بزرگترین چالش در برابر رسانه های گروهی خصوصاً رادیوها و تلویزیونها، به عنوان یکی از میکانیزمهای خیلی کارا برای تأمین حق دسترسی به اطلاعات در افغانستان مطرح است.

رسانه ها بالخصوص رادیوها وتلویزیون ها روی یک میکانیزم خاص برای دسترسی به اطلاعات وچگونگی پخش آن درعرصه ایجاد هماهنگی وهمکاری میان شان تلاش بیشتر نمایند وهرکارمند رسانه با مطالعه دقیق ازقانون دسترسی به اطلاعات خودرا آگاه نمایند ونیز برای مسوولین ادارات دولتی دربخش دادن اطلاعات برنامه های آگاهی دهی روی کار گرفته شود تا ازیک طرف اطلاعات به گونه خوبتر دردسترس کارمندان رسانه ها قرار گیرد وازسوی دیگر برای مخاطبین پیام ها واطلاعات موثر انتقال یابد.

**ترتیب کننده: امین الله «صفا»**